مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق

۲۰۲۶/۰۴/۲۷

# درناوی

## قصه په سلو ټکو کې

سهار په هدیره کې تېرېدم. فضا ارامه وه او یو ډول درناوی پکښې احساسېدی.

ناڅاپه مې یو سپی ولید چې د یوه قبر پر شنخته ئې پښه پورته کړې وه. ور و مې څغستل چې وې شرم، ما تل د مړو احترام کړی او باور لرم چې هغوی دلته آرام کوي. سپی خپل خاوند ته ور منډه سو.

ما لنده ډېره ولوستله، دا زموږ د ښار د پخواني ښاروال قبر وو. یو کال مخکې، ده د ۱۵۰۰ کوڅه ډبو سپو د وژلو امر کړی وو. فکر یووړم، ربښتینی درناوی څه معنی لري او په پای کې چا ته ور رسېږي.

محمدسمیع صادق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ